د امنیتي او دفاعي ځواکونو د ملاتړ ملي ورځې (۹کب) په ویاړ د هېواد ټولو زوړورو امنیتي او دفاعي ځواکونو ته د دې ورځې مبارکي وایم. د هغو شهیدو شویو سرتېرو روح ته دعا کوم، چې زموږ د هوسا ژوند او د خاورې د عزت او شرف ساتلو لپاره یې خپل خوږ ژوند قرباني کړی دی.

پرته له شکه، چې د شهیدو شویو سرتیرو مېړانه به د تاریخ پاڼو کې تر نسلونو، نسلونو د زریني کارنامې په توګه خوندي پاتې شي.

د کب د ۹ په ویاړ افغان ولس نه مننه کوم، چې تل یې د امنیتي او دفاعي ځواکونو له مېړانې او قربانی په ګرمو ولولو ملاتړ او ستاینه کړې ده. د دغو ځواکونو ملاتړ د ټولو ملي او اسلامي وجیبه ده.

د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت ژمن دی، چې د پوځ د شهیدو سرتېرو وارثینو او معلولینو ته، چې تروریزم سره د مبارزې او د هېواد د حیثیت ساتنې په مقدسه جګړه کې یې قرباني ورکړې، اسانتیاوې او هر اړخیزې مرستې برابرې کړي.

دا پرتمینه ورځ مو یو ځل بیا هم مبارک شه!

ژوندی دې وي افغانستان<br>
ژوندی دې وي زموږ ویاړلي ځواکونه